عمومي اسامبله

امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۳ جون ۲۰۱۳
اصل: انګلیسی

**عمومي اسامبله**
**اوه شپیتمه ناسته**
د اجنډا ۳۸ ماده
**په افغانستان کې وضعیت**

**د امنیت شورا**
**اته شپیتم کال**

# په افغانستان کې وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت باندې یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### لومړي: پیژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۷/۱۶ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۰۹۶ (۲۰۱۳) پریکړه لیک پر بنسټ وړاندي کیږی چې په ترځ کې یې شورا له ما غوښتلې وو چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم.

۲. زما د ۲۰۱۳ کال د مارچ د ۵ نېټي (A/67/778-S/2013/133) د راپور د خپریدو راهیسې، دغه راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه د پام وړ بشري، پراختیایي مرستو او د بشري حقونو د هڅو په شمول، تازه معلومات وړاندي کوي. راپور همدا راز د افغانستان په تړاو د کلیدي سیاسي او امنیتي پرمختګونو او د سیمه ییزو او نړیوالو پیښنو لنډیز بیانوي.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

#### الف. سیاسي انکشافات

۳. د راپور ورکولو موده د افغان سیاسي برخوالو تر مینځ، د هیواد د سیاسي او امنیتي لیږد په درشل کې چې په ۲۰۱۴ کال کې به بشپړ شي، د ستر سیاسي فعالیت شاهد وو. په سیاسي ډول ټول تمرکز د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزې او ولایتي شوراګانو پر ټاکنو باندې مرکوز وو. د باور وړ انتخاباتي چوکاټ، د راتلونکې تاریخي ټولټاکنو لپاره، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رییس ټاکل به د خورا مهمو پریکړو څخه یو وي. د دې موضوع په پام کې نیولو سره چې د اوسنی کمیسیون د رییس د کار دوره د اپریل په ۱۷ نیټه پای ته رسیږي ، ولسمشر حامد کرزی د اپریل په ۹ نېټه د سیاسي، جهادي او مدني ټولنو د استازو په ګډون یوه مشورتي غونډه تر سره کړ چې دغه موضوع او د ټاکنو په اړوند نورو موضوګانو ته رسیدګي وکړي. د افغانستان د سیاسي ګوندونو د ائتلاف چې د ۲۳ غړو ګوندونو څخه جوړ شوی، یو شمېر غړی د دغې ناستې سره پریکون اعلان کړل او استدلال یې وکړ چې د کمیسیون غړیتوب په اړه پریکړه باید د نهادونو له طریقه هغه مهال تر سره شي کله چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو د خپلواک کمیسیون د جوړښت او دندو قانون ("د جوړښت قانون") نهای شوې وې. د غونډې وروسته، اعلان وشو چې د کمیسیون د رییس ټاکنه به تر هغه مهاله وځنډول شي چې دواړه د کمیسیون د جوړښت قانون او د ټاکنو قانون تصویب شي.

۴. ملي شورا پر دواړو کلیدي قوانینو باندې خپل بحث ته دوام ورکړ. د اپریل په ۱۳ نېټه د مشرانو او ولسي جرګې ګډ کمیسیون د کمیسیون د جوړښت په قانون کې یوه ستونزه حل کړه او د ټاکنو په اړوند د شکایاتو د خپلواک کمیسیون په تشکیل کې د دوه تنو نړیوالو غړو د شاملیدو ستونزمن حکم لېرې کړل او قانون یې د توشیح لپاره ولسمشر ته واستول. د اپریل په ۲۹ نېټه قانون بیرته ولسي جرګې ته واستول شو. په هغه کې ۸ اعتراضې موردونه، د ټاکنیزو شکایتونو د دایمي خپلواک کمیسیون او د ټاکنو خپلواک کمیسیون لپاره د ټاکلو له لاري، چې ولسمشر به د قانون جوړونکو او مدني ټولنو د استازو لخوا د چمتو شوي لنډ لست له مخې وټاکي، په ګډون د اساسي قانون سره په ټکر کې په ګوته شوي وو. د می په ۲۲ نېټه ولسي جرګه د ټاکنو قانون تصویب کړ، چې د جرګې غړې د یو واحد او د انتقال نه وړ د رایې ورکولو د سیستم په حفظ کولو سره او د کوچیانو لپاره د ۱۰ چوکیو سهمیه، چې د ۱۰ والیتونو ترمنځ به وویشل شي، د قانون ملاتړ وکړ. وروسته دا قانون مشرانو جرګې ته واستول شو.

۵. سیاسي ګوندونه او شخصیتونه د بلقوه متحدینو او پلاتفورمونو د موندو لپاره سپړنې ته دوام ورکړ. د جمعیت اسلامي ګوند مخکښو څیرو له ځانه زیات خودمختاري وښودل، ځینې ګوندونه د دوه سترو اپوزیسیون ډلو (د افغانستان ملي ایتلاف او د افغانستان ملي جبهه) سره یو ځای شوي چې د دواړو ډلو مشري د جمعیت ګوند کوي، پداسې حال کې چې نور ګوندونه دولتي څوکیو کې موقفونه لري. د ملي جنبش ګوند د خپل د ګوند د پلان شوي کنګري د دایرلو نه مخکې خپل سیاسي تمرکز پر خپل د ګوند بیارغولو او د هغه د سیاسي بنسټ پر پراخه کولو باندې موقوف کړ. د اپریل په ۱۱ نېټه د ګلبدین حکمتیار د وسله والې مخالفې ډلې استازي ویلي چې یو پلاوي یې کابل ته د ثبت شوي حزب اسلامي افغانستان سره د لیدو په موخه استولې تر څو د ۲۰۱۴ کال په ټاکنو کې د احتمالي ګډون په اړه بحث وکړي. د افغانستان د سیاسي ګوندونو او ایتلافونو د همکارۍ شورا، سره له دې چې بیلابیل غړې لري او دواړه لوی اپوزیسیون ګوندونه، ملي جنبش، حزب اسلامي افغانستان او یو شمیر دولتي شخصیتونه پکې شامل دي، د پر وخت او د اعتبار وړ ټاکنو لپاره د فشار راوړلو کې سره یو موټي شول. یوه نوې جوړښت د افغانستان د ملي همکارۍ شورا په نوم، چې د همکارۍ شورا زیاتره غړي په کې شامل وو، هم منځته راغې چې د ټاکنیزو مبارزو پر توافق شوي پلاتفورم باندې ځانګړي تمرکز درلود.

۶. د ټاکنو لپاره تخنیکي چمتووالی دوام لري او د اپریل په ۶ نېټه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د عملیاتي پلان مسوده او د بودیجې تشخیص وړاندې کړه. تشخیص شوي بودیجه د ۲۰۱۴ د ټاکنو د عملیاتو لپاره لګښتونه ۱۲۹ میلیون امریکایي ډالر

تخمین کړ. د ټاکنو لپاره د تمویل وسیلو او رسمې چارې، چې کابو په بشپړ ډول به د نړیوالې ټولنې لخوا تمویل کیږي په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د کمیسیون، مالیې وزارت، نړیوالو مرسته کوونکو او د ملګرو ملتونو همکاران تر منځ یو لړ غونډې تسهیل کړې. د دې غونډو هدف دا وو چې د کمیسیون د بودجې په دننه کې تمویل زیات کړي او په ورته حال کې د کمیسیون عملیاتي او سیاسي خپلواکۍ ته درناوی وشي او د تمویلوونکو غوښتنې هم پوره شي. د ډونرانو سره د ملګرو ملتونو د ټاکنو د ملاتړ پروژې، (د سبا لپاره حقوق او انتخاباتي ظرفیت لوړول، دوهم پړاو) الیکټ دوهم، د بیا کتنې لپاره خبري اترې روانې دې تر څو پاملرنه د ظرفیت جوړونې څخه د راتلونکې انتخاباتي دورې لپاره مرستو باندې مرکوز شي.

۷. د مارچ په ۲۴ نېټه، د کورنیو چارو وزارت په کابل ولایت کې د ملي هویت برقي تذکرې پروګرام پیل کړ چې د یو لړ نورو زیاتو دندو په څنګ کې د منځمهاله مودې څخه تر اوږدې مودې پورې د رایې ورکوونکو د پېژندنې د بنسټ په توګه په پام کې نیول شوي. حکومت اټکل کړی چې د ۳۰ میلیونو وګړو د نوم لیکنې لومړنې پروسې لپاره ۱۲۰ میلیون ډالر لګښت ته اړتیا ولري. د مالیې وزارت په روان مالي کال کې کابو څلور ملیونه ډالر د پیل لپاره ځانګړي کړي او د نړیوالو څخه د اضافي مالي مرستې غوښتنه کړې. په دې اړوند یوناما د اړوندو وزارتونو، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او بلقوه تمویل کوونکو تر منځ د مناسب تمویل پر چارو باندې د بحث لپاره آسانتیاوی برابر کړې. د اپریل په ۱۸ نېټه، د کورنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې دغه وزارت د برقي تذکرو د کار پروسه د وګړو د ثبت او احوال د قانون تر تایید پورې به وځنډوي.

۸. د مې په ۲۶ نېټه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د یوې میاشتې ځنډ وروسته او همدارنګه د عملیاتي پیاوړتیا او د برقي تذکرې د پروژې له پلان سره د پیاوړې همغږي د ډاډمنکولو په خاطر د رایه ورکونکو د ثبتولو کار پیل کړ. د رایه ورکوونکو د ثبتولو په پروسه کې هغه خلکو ته د نوم د ثبتولو کارت ورکول کیږی کوم چې نوي د ټاکنو پروسه کې قبول شوي، خپل کارتونه ورک او یا تخریب کړی، هغه کسان چې نوي موقعیت ته تللي او یا افغانستان ته بیرته راغلي دي. دغه عمل چې په لومړي ځل په ۳۴ والیتونو کې ترسره شو، دا ځل د ولسوالۍ په کچه به وغځول شي او چیرته چې اړتیا وي د رای ورکونې تر ورځ څخه یوه ورځ دمخه به هم جریان ولري.

۹. د سولې پروسه د یو لړ رغنده پرمختګونو شاهد و. په دوحه کې د طالبانو د استازو لپاره د دفتر رامنځته کول په پر له پسې توګه وځنډول شو. د مارچ په ۳۰ او ۳۱ نیټه، ولسمشر کرزي د امیر حماد بن خلیفه الثاني په بلنه د قطر څخه لیدنه وکړ، چې پکې د دوه اړخیزو همکاریو په ګډون، د وړاندیز شوي دفتر په شمول او په افغانستان کې د قطر لخوا پانګوونې باندې بحث وشو. په عین وخت کې، د افغانستان د سولې عالي شورا د عامه پوهاوي په برخه کې تمرکز کړی او د اپریل په ۱۶ نېټه د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنې استازو او یوناما سره یوه د معلومات شریکولو ناسته ترسره کړ.

۱۰. د اپریل او مې په میاشتو کې د یوناما ماموریت د مینځګړیتوب او د شخړې د حل په اړوند د ولایتي ورکشاپونو دوهم پړاو تنظیم کړ. د ټولنې مخورو فعالین د جلال آباد، قندوز، ګردیز او مرکزي حوزه کې کار وکړ تر څو د عدم تشدد د بیدلونو په اړوند، د شخړو د سېمه ییز او دودیز حل لاري په ګډون، ګډ پوهاوی پیاوړي کړي. یوناما په جلا توګه د سولې په اړه د افغانانو د ډیالوګ دوهم پړاو ملاتړ ته دوام ورکوي چې د مدني ټولنې یو نوښت دی. د مې په میاشت کې، له ۷۰ څخه زیات د تمرکز د ډلو بحثونه چې په هغه کې ۱۲۰ تنه ګډون درلود، تدویر کړي وو. په بحثونو کې برخه وال - د ټولنې او مذهبي مشران، د ښځو

او ځوانانو استازي، د وسله والو مخالفینو پخواني غړي او د پرمختیايي پروژو څخه مستفید شوي کسان - معافیت، د بشري حقونو څخه سرغړونې او اداری فساد د ځايي شخړو د اصلي فکتورونو په ډول په ګوته کړل.

۱۱. د افغانستان د سولې او پیوستون پروګرام راپور ورکړ چې د مې تر ۲۲ نېټې پورې ۶۸۴۰ تنه پخواني یاغیان دغه پروګرام سره یو ځای شوي چې ۳۳۱ د ټولنې پروژې یې درلودې او ۱۴۶ ورپا کوچنۍ مرستې یې بشپړې شوې یا د بشپړیدلو په حال کې دي. د ملګرو ملتونو په ملاتړ د پنځه کلنې برنامې یوه منځمهاله ارزونه د مارچ په میاشت کې خپره شوه. د پیژندل شویو ننګونو په ډله کې د ډیر مرکزي ساختارونه جوړښتونه او په ځانګړي توګه په ناامنه سیمو کې د نظارت موضوګانې وې. وړاندیزونه د بیا یوځای کیدو پر پروسې او د پخوانې یاغیانو لپاره د مرستو لیږد د دریو څخه شپږو میاشتو ته غځیدل باندې مرکوزې وې.

۱۲. د اپریل په ۱۶ نېټه، د امنیت شورا کمیټه چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک پر بنسټ رامنځته شوي و، د طالبانو لپاره د په لاس جوړ تعبیه شوي چاودیدونکې توکې، کوم چې د افغانستان د سولې، ټیکاو او امنیت لپاره ګواښ جوړوي، د جوړونکو افرادو د نوم لړ ترتیبول تصویب کړ. دغه نوم لړ لیکنه د کمېټې له خوا پر هغو کسانو باندې د زیات تمرکز ښکارندوي دی کوم چې د تلفاتو لامل کیږي او بلواګري تمویلوي.

۱۳. د اپریل په ۲۶ نېټه، د افغانستان او سعودي عربستان ترمنځ د عمومي همکارۍ تړون لاسلیک شو چې دوه اړخیزو اړیکو ته وده ورکوي او په ځانګړي ډول د پانګونې لپاره د فرصتونه پر تسهیلاتو باندې تمرکز لري. د اپریل ۲۹ او د مې د میاشتې په ۲ نېټه، ولسمشر کرزي په ترتیب سره د فلنډ او ډنمارک سره دوه اړخیزه اوږدمهالې مشارکت تړونونه لاسلیک کړ. د فلنډ هیواد به د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او تجهیز پر مرستو باندې تمرکز وکړي، پداسې حال کې چې د ډنمارک هیواد به د مدني ټولنې او پولیس پر پراختیا باندې تمرکز وکړي.

### ب. امنیتي پرمختګونه

۱۴. د مې تر ۲۸ نېټې پور، د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهي صندوق چې د ملګرو ملتونو لخوا اداره کیږي د افغان ملي پولیسو پرسونل څخه ملاتړ کاوه، چې د هغه ټاکل شوي هدف ۱۵۷۰۰۰ تنه پرسونل دي چې له هغې ۱۹۲۹ تنې ښځې دي. د مې د میاشتې تر ۱ نېټې پورې، د افغان ملي پوځ شمیر کابو ۱۷۷۰۰۰ تنه پرسونل درلودل چې ټاکل شوی هدف یې ۱۸۷۰۰۰ تنه پرسونل دی، او د افغانستان هوايي ځواک پرسونل ۶۹۰۰ تنو ته ورسید چې د هغه ټاکل شوي هدف ۸۰۰۰ پرسونل اټکل شوي. د اپریل په ۱۱ نېټه، د کورنیو چارو وزیر د ۱۰ کلن لید سند لاسلیک کړ چې موخه یې پر دې تمرکز لری تر څو پولیس د امنیتي مرستندویه ځواک څخه د قانون په تفېذ ځواک بدل کړي. سند دا تشخیص کړي چې د پولیسو دندې د پوځي ځواکونو څخه جلا دي او د ثبات او پرمختګ د هغو لپاره بشري امنیت مرکزي اهمیت لري. د پرسونل فرسایش او د امنیتي نهادونو ترمینځ همغږي هغه ډګرونه دي چې د پام وړ ننګونو سره مخ دي. څرنګه چې د امنیت د مسؤلیت د لېږد کار دوام لري، افغان امنیتي ځواکونه به د عملیاتو او انساني تلفاتو زیاتره برخه به وزغمي. پداسې حال کې چې د تیر راپور ورکولو دورې په پرتله ټېټ و خو د نړیوال پوځي ځواکونو پروړاندې د داخلي بریدونه د یو شمیر پرسونل ژوند واخیست. د افغان پرسونل له خوا بریدونه او یا د خپلو ځواکونو په مقابل کې د بلواګرو اقداماتو ته اسانتیا برابرو ل، د مارچ په ۲۱ نېټه، د بادغیس

په ولایت کې، د اپریل په ۱۹ نېټه، د غزني په ولایت کې او د مې په ۱۳ نېټه، د ارزګان په ولایت تر سره شول. د افغان ځايي پولیسو پروګرام چې یو جلا ځايي دفاعي نوښت دی د اپریل تر ۲۳ نیټې پورې د ۲۱۶۰۰ تنه پرسونل سره، په ډېریدو ساحو کې د خلکو د باور او د ټیکاو په زیاتولو کې مرسته کړې که څه هم د یاغیانو ځانګړې بریدونو پر دوي باندې مرکوز دي. د دغه ځواک د تذکیې، قوماندې، کنټرول، څارنه او نظارت په ډګرونو کې کمزورې، د اندیښنې وړ ستونزې دي. د اپریل په ۱۹ نېټه، د غزني په ولایت کې د ځايي پولیسو ۱۲ غړې د بلواګرو لخوا ووژل شول.

۱۵. د مې په ۱۴ نېټه، هغه ډله چې د "شیکاګو د کابل ملګرو" په نوم پېژندل شوې، د نړیوالې اړیکې ډلې غونډې په څنډه په برلین کې سره ولیدل، ترڅو د تمویل د چوکاټ د رامینځته کولو کې پرمختګ و ارزوي او د افغان امنیتي ځواکونو د پایښت لپاره نړیوالې ژمنې دوام ولري. د تمویلوونکو د غوښتنو په پام کې نیولو سره، د پولیس او پوځ د فعالیتونو تر مینځ د روښانه توپیر په ګډون، داسې وړاندیز شوی چې د تمویل څلور بیلابیل سرچینې (یوه د پولیسو لپاره د افغانستان لپاره د نظم او قانون وجهې صندون له لارې او درې نور - د شمالي اتلانتیک تړون سازمان له لارې (ناتو)، د غیر ناټو دوه اړخیزو ملګرو او د امریکې د متحده ایالاتو له لارې - د افغان ملي پوځ لپاره) وساتل شي او د نظارت او همغږۍ یوه نوی اداره رامینځته شي چې د یو ښه تسلسل د ډاډمن کولو لپاره د افغانستان او تمویلوونکو لخوا په ګډه مدیریت شي.

۱۶. ملګري ملتونه په امنیت پورې اړوند د پیښو نظارت، چې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په پلې کولو په ځانګړې توګه داسې پیښې چې د ملکي فعالینو کار، خوځښت او خوندیتوب اغیزه کوي، ته دوام ورکوي. د فبروري له ۱۶ څخه د مې تر ۱۵ نېټې پورې، ۴۲۶۷ پېښې ثبت شوې دي، چې دا د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالې ښيې، چې د هیواد په سهیل، سهیل ختیځ او ختیځو برخو کې د پېښو ۷۰ سلنه ثبت شوي دي. په ختیځ کې د پېښو کال په کال کې ۱۸ سلنه زیاتوالی ثبت شوی، په نورستان او بدخشان ولایتونو کې د یاغیانو د راستنیدو راپورونه په شخړه کې د ستراتیژیک بدلون ښکارندوی دی. وسله واله نښتې او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د بریدونو ډېرې برخه تشکیلوي. ځینې وسیلې چې په سهیل، ختیځ او مرکزي سیمو کې موندل شوي د مخکنې موندل شویو ورته وسیلو په پرتله خورا پیچلې وو. د صنعتي کچې وسیلې/مواد د ستر تلفاتو پیښو لپاره وړتیا لري، او د هغې حجم او لږ متفاوت ظاهري بڼه د رواڼې ثابته تدارکاتو تسلسل ته اشاره کوي.

۱۷. د بدخشان ولایت د وردوج په ولسوالۍ کې د مارچ او اپریل په میاشتو کې وسله والې نښتې، چیرې چې افغانستان د ۲۰۱۲ کال په سپټمبر کې د امنیت مشري په غاړه واخیست، د افغان امنیتي ځواکونه د پېچلې او د ودې په حال کې ننګونو د امنیتي وضعیت سره مخ کړ. مخدره توکو د قاچاق او د بلواګرو لارو د ستراتیژیک موقعیت ته د نږدیوالې له امله، سیمه د جنایي او بلواګرو د فعالیتونو مرکز ګرځیدلی دی. د مارچ په ۲ نېټه د کمېن په ترڅ کې چې د افغان ملي پوځ ۱۷ تنه منسوبین پکې ووژل شول، د ملي امنیت شورا افغان ځواکونو ته امر وکړ چې سیمه خوندي کړي. د مارچ په ۲۷ نېټه، د دولت ضد عناصر د همغږۍ او له قوي مقاومت پورې اړوند، د لومړني ننګونو وروسته د نړیوال امنیت د مرستې ځواک (آیساف) د مشورتي ډلې د افغان ځواکونو د ملاتړ لپاره بېرته بدخشان ولایت ته راستون شول. پداسې حال کې چې داسې ښکاري چې له القاعده سره تړاو لرونکې افراطي بهرني ځینې عناصر هم پکې شامل وو، خود د طالبانو دلیکو په پرتله چې اکثریت یې پښتانه دي، جنګیالي په لویه کچه د ځايي تاجک خلکو څخه راجذب شوي وو. دا چې تر کومه حده تاوتریخوالی د ځايي رقابتونو او یا د خپلې خوښې متحدینو لپاره شوی او که د بلواګرۍ اصلي اهدافو او د ژورې بنسټ پالنې د ملاتړ په خاطر، له تر اوسه ناڅرګند دی. خواره واره نښتې دوام لري.

۱۸. د مرکزي وردګ په ولایت کې، د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه د نرخ او د چک ولسوالیو په ترتیب سره د مارچ په ۳۰ نېټه او د اپریل په ۱۴ نېټه وروسته له هغه پرېښودل چې د فبرورۍ په میاشت کې د ملي امنیت شورا پرېکړه د دوی ځخه وغوښتل چې له وخت ځخه مخکې د دغو ځایونو ځخه ووځي ځکه چې د نړیوالو ځواکونو او د دوي افغان ملګرو لخوا د ناوړه چلند تورونه دوي ته رسیدلي وو. د وردګو ولایت د ۲۰۰۶ کال راهیسې ځو ځلې د ځاېي امنیتي نوښتونه د ازمایښت په ډول کارول شوي و او د رسمې او غیر رسمي وسله والو ډلو د نفوذ شاهد و. د مارچ په ۱۶، ځو سوو خلکو په کابل کې د ملي شورا په لور لاریون تر سره کړ او د ولایت په مرکز د لاریونونو په تعقیب د له مخکې ژر وتلو په اړوند خپل ملاتړ ځرګند کړل. که ځه هم یو شمیر افغان امنیتي چارواکي پدې ستراتیژیک ولایت کې، چې د کابل سره ګډه پوله لري، په امنیت باندې د احتمالي اغېزو په اړه اندیښنه ځرګنده کړي. تر دې مهاله د وردګو په ولایت کې د امنیت په خرابیدو کې کوم لوی تغییر ندي راغلې.

۱۹. د اپریل په ۲۷ نېټه، طالبانو د خپل پسرلني عملیات د "خالد بن الولید" تر نامه لاندې اعلان کړ او وویل چې د دوي موخه په نښه پیچلې انتحاری بریدونه او "د بهرني یرغلګرو اډو، د دوی دیپلوماتیکو مرکزونو او پوځې هوایی اډې" باندې بریدونه وي. په حقیقت کې، پر نړیوال پوځې ځواکونو باندې بریدونه، د فبروري د نیمایي بیا د مې د میاشتې تر نیمایي پوري شاوخوا ۴ سلنه تشکیلوي. په عمده بریدونو کې یوه چاودنه هم شامله ده چې د مارچ په ۹ نېټه په کابل کې د ملې دفاع وزارت ته څېرمه تر سره شو او ۹ ملکي وګړي پکې ووژل شول. په د مارچ په ۲۶ نېټه ځانمرګي برید کوونکې د جلال آباد امنیه قومندانۍ په نښه کړ او پنځه پولیس پرسونل پې ووژل. د فراه ولایت په قضایي ارګانونو باندې یو پیچلی برید د اپریل د میاشتې په ۳ نېټه تر سره شو چې لسګونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واړوله. په د مې په ۲۹ نېټه، په پنجشیر ولایت کې یو ځانمرګي برید د والي دفتر په نښه کړ – د پخواني شمالي ټلوالې په زړه کې یو نادره برید. حزب اسلامي (ګلبدین) په کابل کې د مې په ۱۶ نېټه کې د ځانمرګي برید مسولیت په غاړه واخیست چې په هغه کې ۹ تنه افغان ملکي وګړي، ۲ تنه د آیساف کارمندان او ځلور تنه قراردادیان ووژل شول. د جون په ۱۱ نېټه، په ستره محکمه کې یو ځانمرګی برید، چې وخت او په عامه ځای کې موقعیت درلود او د حکومت مامورین د ورځې کار پای ته رسولي وو، لږ تر لږه ۱۷ ملکي وګړي پې ووژل او شاوخوا ۴۰ نور پې ټپیان کړل. د مخنیوي کوونکې بریالي هڅو په ترځ کې د مارچ په ۱۳نېټه په کابل کې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا د وسلو یوه لوی زیرمه کشف او د هغه په تړوا پنځه تنه نیول شوي.

۲۰. ملګري ملتونه، د دې پلي کوونکې همکاران او نور د بشري مرستو موسسو د بیلابیلو ګواښونو سره مخ وو. د اپرېل په ۱۵ نېټه، د ملګرو ملتونو چورلکې په غزني ولایت کې د کوچني وسلو تر ډزو لاندې راغي. که ځه هم پېښه کوم تلفات نه درلود د هوایي خوندیتوب لپاره اضافي تدبیرونه ونیول شول. د مې په ۲۴ نېټه، طالبانو په کابل کې د مهاجرت نړیوال سازمان پر مرکزي ودانۍ باندې د یو پیچلي برید مسؤلیت په غاړه واخیست. په خپله اعلامیه کې، طالبانو په غلط ډول ادعا کړې چې ودانۍ د بهرني پوځې استخباراتو د پرسونل ځای و. په دغه برید کې درې ملکي وګړي ووژل او ۲۳ تنه نور ټپیان شول؛ یو پولیس افسر وژل شوی او پنځه تنه نور ټپیان دي؛ او د ملګرو ملتونو ځلور کارکوونکې او ځلور امنیتي پرسونل ټپیان شوي دي. افغان امنیتي ځواکونو د برید په شا تمبولو کې ورتیا او زړورتیا وښودله. د مې په ۲۹ نېټه، په جلال آباد کې د نړیوال سره صلیب د کمېټې ودانۍ د یو ځانمرګي برید شاهد و چې یو ملکي وګړی وژل شوی او دوه نور ټپیان شوي دي.

**ج: سیمه ییزه همکاري**

۲۱. د افغانستان او پاکستان تر منځ تشنج ډیر شو. د مارچ په ۲۵ نېټه، توغندي د راپورونو له مخې د پاکستان څخه د افغانستان د کنړ ولایت د دانګام پر ولسوالۍ کې ولږیدې. که څه هم د تلفاتو راپور نه دی ورکړل شوی، خو د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د پاکستان سفیر ته خپله ژوره اندیښنه څرګنده کړې. د پاکستان حکومت د افغانستان دا ادعاګانې رد کړې چې ګنې د پاکستان پوځ د توپونو ډزې کړې وې. د اپریل په ۱ نېټه، د افغانستان حکومت یوځل بیا د هغه څه په اړه اندیښنه څرګنده کړه چې ویلي یې دي د ننګرهار ولایت په ګوشتې ولسوالۍ کې د پوستې ودانۍ د اسلام آباد یو اړخیز فعالیتونه دي. دغه عمل او نورې شخړې د یو شمیر وسله والو نښتو لامل شوی چې د تلفاتو سره مل وو او تر هغه وروسته د افغانستان په بیلابیلو برخو کې خلکو لاریونونه وکړل. د اپریل په ۱۵ نېټه، پاکستان اعلان وکړ چې د تورخم په بندر کې د یوې پوستې د جوړولو لانجه د لوړ پوړو افغان او پاکستاني پوځي قوماندانانو ترمینځ حل شوې ده.

۲۲. د اپریل په ۲۴ نېټه، د بروکسل په درې اړخیزه غونډه کې ولسمشر کرزی، د پاکستان د پوځ ستر درستیز جنرال اشفاق کیاني او د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري د تاوتریخوالي په اړوند خبرې وکړي. د می په ۱۲ نېټه، د ټول ټاکنو په تعقیب د پاکستان په ملي شورا کې د اکثریت ګوند مشر ښاغلي نواز شریف وویل چې د هغه هیواد له افغانستان سره اړیکې ښه کولو ته اړتیا لري او چمتو دی چې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه کې د افغانستان سره د خپل همکاریو ته دوام ورکړي. د مبارکۍ په یو پیغام کې ولسمشر کرزي هیله څرګنده کړه چې دوه اړخیزې اړیکې به لا پیاوړې شي او په ځانګړي توګه د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزه کې د پاکستان لخوا همکارۍ به ډیر جدې وي.

۲۳ . د ټولې سیمې په کچه، بحثونه په پراخه پیمانه د ننګونې او د ثبات لپاره فرصتونه چې په افغانستان کې د امنیتي لیږد له امله مېنځته راغلې وو د همکارۍ پر دوه اړخیزو ګټو باندې دایر شول. د مارچ په ۲۰ نېټه، په عشق آباد کې د افغانستان، ترکمنستان او تاجیکستان ولسمشرانو د دریو هیوادونو د نښلولو لپاره د اورګاډي د پټلۍ د جوړولو په اړوند د پوهاوي یو یادښت لاسلیک کړل. په د مارچ په ۲۹ نېټه، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د آسیا د همکاریو د خبرو اترو د وزیرانو په یوولسمه ناسته کې چې په دوشنبه کې جوړه شوې وه ګډون وکړ چې د هغې په ترځ کې دی د سیمه ایزې اړیکو ځواکمنتیا چې د سوداګرۍ، پانګوونې، ترانزیت او خلکو - خلکو تر منبځ اړیکو ته وده ورکړي د خبرو اترو مفکوره تائید کړه. په درې اړخیزه غونډه کې چې د اپریل په ۳ نېټه په بیجینګ جوړه شوه، د روسیې فدراسیون، چین او پاکستان هیوادونه موافقه وکړه چې په افغانستان او سیمه کې د سولې، ثبات او امنیت د خوندي کولو لپاره ګډې هڅې وکړي، د افغانستان په مشرۍ د سولې او پخلاینې له پروسې ملاتړ کوي، او د باثباته افغانستان لپاره د امنیت او سیمه ایز امنیت او همکارۍ کې د استانبول د پروسې په چوکاټ کې د ترهګرۍ پروړاندې او د مخدره توکو کنټرول لپاره همکاري پیاوړې کوي. تمه کیږي چې د شانګهای د همکاریو سازمان هم د افغانستان په ملاتړ کې ستر رول لوبوي. د می له ۱۹ څخه تر ۲۳ نېټې پورې، د چین د دولتي شورا لومړي وزیر د هند او پاکستان هیوادونو ته رسمې سفر وکړ. په ګډه اعلامیه د سیمه ایز ثبات او امنیت لپاره د افغانستان اهمیت تشخیص کړل و د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې د پروسې ملاتړ وشو. د می له ۲۰ څخه تر ۲۲ نېټې پورې، ولسمشر کرزی هندوستان ته سفر وکړ چیرې چې هغه د هند پرمختیایي مرستو، په ځانګړي توګه د روزنې په برخه کې، خپل درناوي څرګند کړ. د می د میاشتې په ۲۱ او ۲۲ نېټه، د افغانستان لپاره زما ځانګړی استازی یان کوبیش تهران ته سفر وکړ چیرې چې هغه د بهرنیو چارو له وزیر او نورو چارواکو سره وکتل او دوي هغه ته د لیږد په دوران کې افغانستان سره د ایران اسلامي جمهوریت د دوامداره ملاتړ ډاډ ورکړل.

۲۴. د اپریل په ۲۶ نېټه، په الماتي کې ، د استانبول د پروسې د وزیرانو د دریم کنفرانس ګډونکوونکو د اعتماد جوړونې تدبیرونو د شپږو لومړیتوبونو، چې د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې تایید شوی وو، د پلې کولو پلانونه تایید کړل. په هغه

اعلامیه کې چې په کنفرانس کې تایید شو، برخه اخیستونکو د پروسې پر سیاسي ماهیت ټینګار وکړ او همدارنګه پر توافق شوی فعالیتونو کې د څرګند پرمختګ اړتیا باندي ټینګار وکړ او ګډونوالو څخه غوښتنه وشوه چې لنډمهالې، او نه پلان شوي تمویل لپاره تیاري وښيي.

**دریم: بشري حقونه**

۲۵.　　د فبروري له ۱ نېټې څخه بیا د اپریل تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما ۵۳۳ د ملکي کسانو د وژنو او ۸۸۲ د ملکي کسانو د ژوبل کیدو پېښې مستند کړی چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۲۵ سلنه زیاتوالې ښيی. د ملکي کسانو په وژنو کې ۴۴ سلنه او د ملکي کسانو په ژوبل کیدو کې ۱۶ سلنه زیاتوالي راغلې. په دغه دوره کې د دولت ضد عناصر د ملکي کسانو د تلفاتو ۷۳ سلنه او حکومت پلوه ځواکونه د ملکي تلفاتو ۱۲ سلنه مسولیت په غاړه لري. یاغیانو د تعبیه شوی چاودیدونکو توکو، پیچلې بریدونه او ځانمرګي بمونو په کارولو سره د ټولو ملکي کسانو د تلفاتو ۵۱ سلنه جوړوي. ټولو ښکیلو خواو ته منسوب ځمکنۍ شخړي د ملکي کسانو د ۸۳ وژنو او ۲۲۴ ملکي کسانو د ژوبل کیدو لامل شوي چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۵ سلنه زیاتوالی ښيي. ځمکنۍ شخړي د ټولو ملکي تلفاتو ۲۱ سلنه جوړوي.

۲۶.　　د ماشومانو او وسله واله شخړه د نظارت او راپور ورکولو د هیواد په کچه کاري ډله ځواک چې د ملګرو ملتونو له خوا مشري کیږي په ټولیزه توګه ۱۲۹ پیښې ترلاسه او تصدیق کړې چې د ۱ فبروري او ۳۰ اپریل ترمینځ د ۹۹ تنو ماشومانو د مړینې او ۱۹۶ تنه د ټپي کیدو لامل شوي. ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي، د جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي، متقابل ډزې او ځانمرګي بریدونه اصلي لاملونه وو. ټولټال ۲۵ پیښې د تعلیمي ودانۍ او کارمندانو پروړاندې د اقداماتو په شمول پیښې ثبت شوي، چې په هغه کې د ښوونځیو سوځول، هدفي وژنې او اختطافونه راپور ورکړ شوي؛ له دې جملې ۹ پېښې تایید شوي. داسې راپورونه تر لاسه شوي چې وسله والو مخالفینو ۲۹ هلکان استخدام کړي چې د شخړې په اړوند فعالیتونه، د ساري په ډول د چاودیدونکو توکو راټولول او ښخول او په جګړیزو عملیاتو کې برخه اخیستل، تر سره کړي. د راپورونو له مخې افغان امنیتي ځواکونو د پولیسو عملیاتو لپاره درې هلکان استخدام کړي دي. د هیواد په کچه کاري ډله د کم عمره هلکانو د ګمارنې د مخنیوي لپاره د کاري پلان پلي کولو په اړه د حکومت پرمختګ راپور ته ځواب توحید او چمتو کړی.

۲۷.　　د ملکي وګړو هدفي وژنه چې د چارواکو ملاتړ کوونکي دي، د فبروری له ۱ نېټې څخه بیا د اپرېل تر ۳۰ نېټې پورې د ۱۵۸ ملکي وګړو د وژلو لامل شوي چې د ۲۰۱۲ په پرتله ۸۸ سلنه زیاتوالی څرګندوي. په پیښو کې د حکومت ضد عناصر لخوا د مارچ په ۱۸ د کندهار ولایت د غورک په ولسوالی کې د دریو ملکي وګړو، چې په دې تورن شوي وو چې دوي د حکومت کارکوونکي دي، سرونه غوڅول هم شامل دي. د مارچ په ۲۱ نېټه، د تخار په ولایت کې د ریموټ کنټرول په واسطه ځای په ځای شوي چاودیدونکي توکي د چاودول له امله یو ولسوال او دوه تنه قومي مشران ووژل شول چې طالبان د هغه مسولیت په غاړه واخیست. همدارنګه د اپرېل په ۵ نېټه، طالبانو په فراه ولایت کې پر قضایي ادارو د برید مسولیت هم ومنل چې له امله یې ۳۳ ملکي وګړي پکې ووژل شول او ۱۰۵ تنه نور ټپیان کړل، او د محکمې د کارمندان د هدف ګرځولو ګواښ یې هم کړی وو. برید سمدستي په داسې یوه ولایت کې د عدالت د تامینولو په اړه خپلې منفي اغیزې ښکاره کړ چیرې چې د امنیتی ګواښونو له امله د ولسوالیو په کچه قاضیان او څارنوالان لاهم شتون نه لري. د دولت ضد عناصر د اپریل په ۱۹، د هرات په ولایت کې د نړیوال ځواکونو لخوا ګمارل شوي دوه تنه د خصوصي امنیتي کمپنې ساتونکي یو لاس او یوه پښه غوڅ کړل. د اپریل په ۲۳

نېټه، د فارياب په ولايت کې د ولسوالۍ د څارنوال موټر د کمېن سره مخ شو  چې په برید کې دی د پنځو نورو ملکي وګړو سره ووژل شو. د مۍ په ۲۰ نېټه، د بغلان ولايت د ولايتي شورا رييس چې د جمعيت د ګوند يو وتلی غړي و د ۱۳ نورو ملکي وګړو سره د يو ځان وژونکي برید له امله ووژل شو.

۲۸.	د فبروري د ۱ نېټې څخه بيا د اپريل تر ۳۰ نېټې پوري حکومت پلوه ځواکونه د ۷۶ ملکي وګړو د وژلو او د ۹۱ ملکې وکړو د ټپي کيدو لامل شوي دي. د دغو تلفاتو اکثريت د هوايي عملياتو له امله رامنځته شوي چې پکې ۳۴ ملکي وګړي وژل شوي او ۳۵ نور ټپيان شوي دي. د حکومت پلوه ځواکونه ځمکنې شخړي هم ۱۲ ملکي وګړي وژلي او ۳۶ تنه نور يې ټپيان کړي دي. د اپريل په ۶ نېټه،  د کنړ په ولايت کې د هوايي برید له امله ۱۳ ملکي کسان، د ۱۱ تنو ماشومانو په ګډون، وژل شوي او ۶ تنه نور ټپيان شول. وروسته پلټنې وړاندیز کوي چې کیدای شي تلفات د چاودنې د څپو له امله رامينځته شوي وي چې په هوايي برید کې د ډيرو چاوديدونکو موادو د کارونې له امله رامينځته شوی. نړيوالو ځواکونو د فبروري په ۱۳ نېټه په ورته ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو پر اډو باندې هوايي عمليات تر سره کړل  چې پکې پنځه ماشومان او څلور ميرمنې وژل شوې دې.

۲۹.	د مارچ په ۲۵ نېټه، افغان چارواکو د پروان په ولايت کې د توقيف ځای (چې په عام ډول د بګرام بنديخانه په نامه پيژندل کيږي) کنټرول په غاړه واخيست. داسې تفاهم شوی چې هغه توقيف شوي کسان چې خطرناک ګڼل شوي د اداري توقيف تابع وي او دوي به د افغان چارواکو لخوا خوشې نشي. د اپريل په ۳ نېټه، د کورنيو چارو وزارت له يوناما څخه وغوښتل چې د بنديخانو د فرعي کارې دله کې د يو نړيوال استازي په ډول، ګډ رياست ومنې او د دغه وزارت د نوي ۱۰ کلن لير ليد کاری پلان په پلي کولو کې وزارت ته مشوري او لارښوونې ورکړي. لومړني تمرکز د زندانونو د عمومي رياست لپاره پر دوه کلن پلان باندې موقوف دی.

۳۰.	همدارنګه يوناما د دولت او تمويلوونکو سره په ګډه د ولسمشر د ۱۲۹ ګڼه فرمان په پلي کولو او تبليغ کولو کې ښکېل دی چې د هغه پر بنسټ کليدی نهادونه لکه د ملي امنيت رياست، د لوی څارنوال دفتر، ستره محکمه او د عدليې، کورنيو چارو او عامې روغتيا وزارتونه مکلف دي په شکنجه مظنون مرتکبين تر عدلي تعقيب لاندې ونيسې، په خپل سر توقيف شوي کسان خوشې کړي او دوي ته مدافع وکيلانو او طبي درملنو ته ښه لاسرسې برابر کړي. د کورنيو چارو وزارت او سترې محکمې ګډ پلاوي د دې هڅې د يوې برخې په توګه د توقيف شويو قضيو پراخه بياکتنه ترسره کړل. وروسته له هغه چې د اتو ولايتونو څخه ليدنه ترسره شوه، استول شوي پلاوي د ۳۰۰ څخه د زياتو بنديانو د خوشې کيدو امر وکړ ځکه چې د دوي موندې وښودل چې دوي په غيرقانوني توګه تر توقيف لاندې نيول شوي دي.

۳۱.	د مۍ په ۱۸ نېټه، ولسي جرګه د ښځو پروړاندې تاوتريخوالې د منع قانون باندې بحث پيل کړ. دغه قانون چې په ۲۰۰۹ کال کې د ولسمشر د يو فرمان په توګه اعلان شوی و، دا د ښځو د ساتنې د پراختيا په ډاډمن کولو کې يوه تاريخې لاسته راوړنه ده. د ښځو د حقونو فعالينو او د ولسي جرګې د بشري حقونو د کميسيون د رييس تر مينځ د اختلاف سره سره، د ښځو او مدني ټولنو له خوا  تعديل شوی مسوده پارلمان ته په دې موخه وړاندې شوه تر څو د پارلمان تاييد او د ځينو احکامو تقويه کول تر لاسه شي. عمومي غونډې ته د معرفي کولو پرمهال تودې بحثونه پيل شو او محافظه کاره قانون جوړوونکې پر ځينو کليدی احکامو، د تاوتريخوالي قرباني شوې ښځو لپاره د امن ځايونو او د واده لپاره حد اقل عمر په ګډون، باندې توافق و

نکړل. یاد شوي قانون د لا زیات غور لپاره د شورا تخنیکي کمیسیونونو ته راجع شو. په ټوکیو کې د دوه اړخیزه حساب ورکوونې په چوکاټ کې د قانون بشپړ پلي کول د حکومت کلیدي ژمنتیا ده.

## څلورم: د کابل پروسې پلي کول، پرمختګ همغږي او د قانون حاکمیت

۳۲. د اپریل په ۱۰ نېټه، ولسمشر کرزي ۲۴ ملموس کړنې تائید کړل (۱۷ د حکومت لپاره او ۷ د نړیوالې ټولنې لپاره) چې د ټوکیو دوه اړخیز حساب ورکوونې د چوکاټ د اصلې عناصرو څخه رایستل شوي. د دغه سخت پلې کیدونکې هدف مقصد دا دي د لوړ پوړو چارواکو د ناستې دمخه چې د جولای په ۳ نېټه ترسره کیږي د هغه پلې شوي ژمنو بهېر تعقیب کړي ترڅو په چوکاټ کې تصویب شوي مواد یو کال وروسته پرمختګ باندې بیا کتنه وکړي. د حکومت لپاره د نړیوال ژمنې خورا مهم دي چې تر ۲۰۱۵ کال پورې به افغانستان ته تر ۱۶ ملیاردو ډالرو زیات مالې سرچېنه چمتو کړي، چې د مرستو ۵۰ سلنه به د ملي بودیجې له لارې تمویل کیږي او ۸۰ سلنه د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو سره همغږي شې. تمویل کوونکې ټېنګار کوي چې حکومت باید ژمن شې چې د باور وړ، ټول شموله او پیاوړي انتخابي نهادونه جوړوي؛ د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالی د له منځه وړلو قانون پلې کوي، د اداري فساد سره د مبارزې اقدامات ځواکمن کوي؛ د ولایتي بودیجه جوړونې پروسې نافذوی؛ او د استخراجي صنعت د پانګوونې لپاره یو قوي قانوني چوکاټ هڅوي. د یوې ورځې غونډې لپاره د چمتوالی په کار کې، داسې تمه کیږي چې بحثونه به په لاندې موضوعاتو باندې مرکوز وي: استازي دیموکراسي او ټولټاکنې، د مرستې اغیزمنتیا، حکومتداري، د قانون حاکمیت او بشري حقونه؛ د عامه مالي او سوداګریز بانکداري کړنو بشپړتیا؛ د دولت عواید، د بودیجې اجرا او سیمه ایزه حکومتوالې؛ او ټول شموله او دوامداره وده. د مالېې او بهرنیو چارو وزارتونه به د افغانستان لپاره زما د ځانګړي استازي سره په ګډه د غونډې مشري کوي. یوناما د نړیوالو شریکانو او مالیې وزارت ترمینځ غونډې ته د چمتووالي په برخه کې د کاري ځواک د دارالانشاء او تسهیل کوونکې په توګه کار تر سره کړی.

۳۳. د تایید شوي ملي لومړیتوبونو ۲۰ برنامې پلي کول ورو مخ په وړاندې ځې. د مالیې وزارت او اړونده وزارتونو د برنامو په دننه کې د پروژو طرح کولو ته دوام ورکړی او د پروژو د تمویل کولو پر طریقو کې د تمویلوونکو سره ښکیلتیا ته وده ورکوي. د ملي لومړیتوب دوه پروګرامونه لا تر اوسه نه دي تایید شوي، چې قانون او عدالت د ټولو لپاره او روڼتیا او حساب ورکونې پکې شامل دي. حکومت د ملي تفتیش د قانون تصویب او د کابل ښاروالی لخوا د ودانولو د جواز طرزالعملونو ته د وده ورکولو په اړه یو لړ پرمختګ راپور ورکړی، لکه څنګه چې د شفافیت او حساب ورکونې د پروګرام د نهایی کولو څخه دمخه د نړیوالو ملګرو لخوا غوښتل شوي وو. د ۷۰۰۰ زیات لوړ پوړې دولتي چارواکې خپل شتمنې اعلان کړي او تمویل کوونکې د اعتبار وړ تایید پروسې باندې ټینګار کوي. ملګرو ملتونو تخنیکي مرسته اماده کړې او د دولت او تمویلوونکو تر منځ د تخنیکي کچې بحثونو کې تسهیلات رامنځته کړي ترڅو د ټولو لپاره د قانون او عدالت په اړه د پروګرام نهایی کیدو ملاتړ وکړي. د می په ۲۳ نېټه، دوهم مسوده د ډونرانو د تبصری لپاره وړاندې شوه.

۳۴. د مالیې وزارت د ډونرانو سره د مرستو د مدیریت پالیسې په پلي کولو کې - د ملي لومړیتوب پروګرام د تمویل د لاربښود چوکاټ او په ټوکیو کې کلیدي نړیوالې ژمنې - او د ۲۰۱۳ کال د لومړیتوبونو د ګډ پلي کولو لپاره توضیح، بوخت دی. دې ته ژمن پاتې کیدل، چې ډاډ تر لاسه شې تر څو هر تمویل کوونکی د حکومت سره د پراختیایی چوکاټ ترون ولري او په افغانستان

کې د مرستو په همغږي کولو کې د میراثي پیچلتیاوې په پام کې نیولو سره، او دا چې د نړیوال غورې کړنو سره په ټکر کې نوي، یو مهم ګام و.

۳۵. د مارچ په ۶ نېټه، د کابل بانک د چارو ځانګړې محکمه د بانک پخواني ۲۱ تنه چارواکې د ۹۸۰ ملیون ډالرو په درغلي تورن ومونډل چې په ۲۰۱۰ کال کې یې د هیواد مالي سیستم باندي ناوړه اغیزه کړې او دې ته اړ شو چې نړیوال پور واخلې. د کابل بانک پخواني عمومي رییس او پخواني اجراییوي رییس هر یو ته د پنځه کالو د بند سزا ورکړل شو، پداسې حال کې چې پاتې ۱۹ تنه تورن کسان د دوه څخه تر پنځو کلونو پورې په بند محکوم شول. د اداري فساد پروړاندې د نظارت او ارزونې خپلواک ګډه کمیټه د نسبتاً سپکو مجازاتو په اړوند خپل مایوسي څرګند کړ. دا چې د محکمې فیصله د پیسو مینځلو د تورونو پر بنسټ ندي صادر شوي، د بهر څخه د غیرقانوني پیسو بیرته لاسته راوړل ستره ننګونه ده. اوس مهال د علمې او مستدل کنټرول مرسته روانه ده او ممکنه ده چې اضافي تورونه لدي وروسته وارد شي. د ټوکیو چوکاټ پلي کول د حساب ورکونې او رڼنتیا په مسلو کې د پام وړ پرمختګ غوښتنه کوي.

## پنځم: پرمختګ او بشردوستانه مرستې

۳۶. د اپریل په ۱۵ نېټه، د افغانستان او پاکستان په هیوادونو کې د ملګرو ملتونو د هیوادونو په کچه د ټیم استازي په اسلام آباد کې یوه ورځنۍ غونډه وکړه تر څو د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د سیمې د چاپیریال په اړوند یو ګډ تفاهم ته و رسیږي. د دواړو هیوادونو د مقیم همغږي کوونکي په ګډه د غونډې مشري کوله د ناورین د ګواښ کمولو په ډګر کې زما ځانګړې استازې مارګریټا والستروم هم په ناسته کې ګډون کړې وه. ګډونکوونکو هوکړه وکړه چې په لاندې برخو کې همکاري پیاوړي کړي: سیمه ییزه حکومتولي؛ د لېږي څخه د ګواښ مدیریت، د ناورین د ګواښ کمول او مدیریت؛ د بېړني پلان جوړونې او د پولو هغه خوا مسالې. په افغانستان کې کارونه د ګډ تحلیل پر بنسټ روان دي تر څو د ۲۰۱۵ کال څخه وروسته د ملګرو ملتونو د پرمختیایي مرستو چوکاټ په پراختیا کې مرسته وکړي. د لوی - هیواد د چوکاټ پراختیا به د توافق شوي کلیدي سکټورونو او پرمختیا ننګونو د تحلیل څخه وروسته به تعقیب شي: عام شموله اقتصادي وده؛ حساب ورکوونکې حکومتوالي، بشردوستانه عمل، خدمات وړاندې کول او د چاپیریال مدیریت.

۳۷. د اپریل په ۲۴ نېټه، د ننګرهار او کنړ په ختیځ والیتونو کې یوه زلزله د ۱۵ تنو ژوند واخیست، ۸۴ تنه نور ټپیان شول او ۳۰۰۰کورونه یې ویجاړ کړ. د می په ۱۴ نېټه، په ۱۹ ولایتونو کې د پسرلي موسم سیلابونو ۳۶ کسان یې وژلي او شاوخوا ۴۰۰۰۰ نور یې اغېزمن کړي. سیلاب د تیرو کلونو په پرتله په ټیټه کچه کې وو ځکه چې د ژمي موسم ډیر یخ نه وو او واوره هم لږ وریدلې و. د اپریل د ۱۳ تر ۱۷ نېټې پورې آغلې والسټروم د افغانستان څخه لیدنه وکړه او د حکومتي چارواکو او ځایي همکارانو سره یې وکتل. هغې د ناورین په وړاندې غبرګون کې پرمختګ ولیدل مګر یادونه وکړه چې په عمومې ډول ملي ظرفیت ټیټ دی او په دې هلکه اړوندو وزارتونو کې همغږي او یوالي ته اړتیا ده. د ۲۰۱۳ کال د بشردوستانه ګډ عمل پلان هدف ۴۷۱ میلیون امریکایې ډالر و، خو د می د ۳۱ نیټه پورې یوازې ۲۳۵ میلیون امریکایي ډالر (د ټاکل شوي هدف ۵۰ سلنه) مرسته شوي.

۳۸.     د ۲۰۱۳ کال په لومړیو څلورو میاشتو کې، ۱۰۹۳۴ تنه کډوال په خپله خوښه بیرته افغانستان ته راستانه شوي چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۶ سلنه کموالی ښیي. د مارچ په ۳۱ نېټه، ملګرو ملتونو او د افغانستان حکومت موافقه وکړه چې د ولسمشر دویم مرستیال محمد کریم خلیلي په ریاست یوه کمېټه جوړه کړي چې کلیدي وزارتونه د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټیم سره یو ځای کړي تر څو د مهاجرینو او داخلي بې ځایه کیدونکو لپاره ګډه حل لاره او واحده کړنلاره ومومي، او همدارنګه زما د چوکاټ په محتوا کې د جګړې وروسته حالتونو کې د بې ځایه کیدو ته د پای ټکی کیږدی.

۳۹.     تر دې نیټې پورې په ۲۰۱۳ کال کې د شخړی له امله، اکثراً د هیواد په لېږي سیمو کې او په ځانګړي ډول د شمال او سهیل سیمو په ولسوالیو کې چیرته چې د لېږی والې او د امنیت د نشتون له امله د بشري مرستو رسول ستونزمن کار دی، د داخلي بې ځایه کیدو کچه زیات شوي دی. وروسته له هغه چې د اپریل په ۲۲ نېټه د فاریاب په ولایت کې په دریو ولسوالیو کې د پولیسو پر تلاشی پوستو بریدونه وشول، د هغه وروسته دوه اوونۍ جګړې دوام وکړ او په موقت ډول سره کابو ۲۰۰۰ کورنۍ د خپل ځایونو څخه بې ځایه کړل. د می په ۲۰ نېټه، د هلمند په ولایت کې پر حکومتي پوستو باندی د برید وروسته او مخالفو وسله والو ډلو تر منځ شخړه د کابو ۴۰۰۰ کورنیو د بې ځایه کیدو لامل شو. بشردوستانه فعالینو د ناامنۍ له امله لیرې پرتو سیمو ته لاسرسی خورا ګران کار موندل او داسې راپورونه تر لاسه کړي چې ملکي خلک د ستونزو له امله نورو خوندي سېمو ته کډه کوي.

۴۰.     د اپریل د میاشتې په اخره کې، په ختیځه سیمه کې د ګوزڼ دوه پیښې راپور ورکړشوې وې چې یوه یې په ننګرهار ولایت او بل په کنړ ولایت کې و. د سهیل سیمه، چې د ګوزڼ د ویروس د جریان له پلوه یوه نازکه سېمه ده د نومبر د میاشتې راهیسې د ګوزڼ هېڅ کومه پیښه راپور نه دی ورکړشوې. د ملي معافیت کمپاینونه د مارچ له ۱۰ څخه تر ۱۲ پورې او د اپریل له ۲۱ څخه تر ۲۳ نېټه پورې دوام درلود چې په هیواد کابو ۲.۸ ملیونه د پنځو عمر کم ماشومان واکیسن کول هدف ټاکلي دی. اضافي کمپاینونه د سهیل د سېمې په ۱۱ ټیټ فعالیت ولسوالیو کې دوام لري؛ دغه تهاجمي کمپاین کړنلاره باید د ۲۰۱۳ کال په دوهم نیمایي کې هم دوام وموږي. د نه لاسرسي وړ ښه څارنه او پر له پسې تحلیل، او همدارنګه د ټولنو سره نږدې اړیکې، لاسرسی لا ښه کړی دی. د می په ۱۳ نېټه، طالبانو د یوې اعلامیې په خپرولو سره د معافیت د پروګرامونو څخه ملاتړ څرګند کړی چې د اسلامي ارزښتونو او ځایي دودونو ته درناوی وکړي.

۴۱.     د راپور ورکولو په موده کې ټولټال ۱۵ کیلو متر مربع په ماینونو ککړه ځمکه پاکه شوې، چې ۲۰ ټولنو او ۳۰۰۰۰ تنه ور څخه ګټه پورته کوي. د ناکافي بودجې له امله کابو ۳۰۰۰ تنه د ماین پاکولو کارمندان د ۲۰۱۳ له پیل څخه بیکاره شوي. اوس مهال افغانستان خپل د لومړي کلني اهدافو د نه پوره کولو د ګواښ سره مخ دی چې د ماینونو د کارولو، زیرمه کولو د پرسونل ضد ماینونو د تولید او لیږد او د هغه د تخریب د کنوانسیون د پلي کلولو لپاره د منظور شوي پلان د ۱۰ نورو کلونو لپاره د غځولو غوښتنه کړې و. هغه پیښې چې ماینونه او د جنګ څخه چاودیدونکې پاتې شوني پکې شامل دي د جنوري له میاشتې راهیسې په میاشت کې ۴۷ کسان وژلي او یا ټپیان کړي، چې دا په ۲۰۱۲ کال کې په اوسط ډول ۳۰ تنه وو. په دغه شمیره کې په پخوانیو منعه شویو اډو او تاسیساتو شاوخوا له کومو چې نړیوال پوځي ځواکونه په وروستیو وختونو کې وتلي دي او اوس مهال ځایی خلک ورته لاسرسی لري، ارقام هم پکې شاملې دې.

۴۲. د می په ۷ او ۸ نېټو، د کار، اقتصاد او ټولنيزو چارو وزيران په کابل کې د دايمي دندو رامينځته کولو کنفرانس په ګډه رياست کړل. دغه کنفرانس چې د ملګرو ملتونو او نړيوال بانک لخوا ملاتړ شوی، په هغه کې د مهمو وزارتونو، کارکوونکو او په کار ګمارونکو سازمانونو، د تعليمي او دونرانو ټولنې څخه تر ۳۰۰ زيات کسان سره را غونډ شوي وو. ګډونکوونکو دا لومړيتوبونه وپېژندل - د سيالۍ ورتيا ښه کول او د دندو د کاری فرصتو نو څخه ډکه وده ډاډمن کول، د غوښتنې پراساس د مهارتونو انکشاف او مهاجرت ته د کارګرانو مديريت او هڅول - او په راتلونکې ګامونه کې د افغانستان د کارموندنې ملي پاليسۍ اصلاح کول او د ملي کارموندنې د ستراتيژي طرحه کول شامل وو.

۴۳. د می له ۱۷ څخه تر ۱۹ پورې، د ملګرو ملتونو تعليمي، علمي او کلتوري سازمان رييسې، ايرينا بوکووا افغانستان ته سفر وکړ چېرته چې هغې د ولسمشر کرزي او نورو لوړ پوړو دولتي چاروآکو سره وکتل ترڅو د ملت جوړونې د يوې ستنې په توګه د تعليم او کلتور د ونډې په اړوند بحث وکړي. د پارلمان د غړو او د ښځو د ډلو سره پر خبرو کې ميرمن بوکووا د ۲۰۱۴ کال وروسته د ښځو د احتمالي وروسته پاته کيدو په اړه اندېښنه څرګنده کړه او ټينګار وکړه چې اړتيا ده تر څو ډاډ تر لاسه شي چې دوی هم د ټولنې بشپړ غړې په توګه وګڼل شي. د پوهنې د وزير سره د کتلو پر مهال آغلې بوکووا د نجونو او ښځو د تعليم پر اهميت باندې د يو اساسی حق په ډول او همدارنګه د ببوزلې د کمولو، روغتيا ښه کولو، دعايداتو لوړولو او د سياسي ګډون په ترويجولو کې ټينګار وکړه.

**شپږم: د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه**

۴۴. د ۲۰۱۳ کال د ترياکو د ګواښ د تحليل دوهم او وروستی پړاو، چې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت او ملګرو ملتونو لخوا خپور شوی پر شمال او شمال ختيځ حوزو باندی تمرکز لري او د دې احتمال شته چې د دريم پرله پسې کال لپاره د کوکنارو په کښت کې ډيروالی ثابت شي. داسې ښکاري چې د بلخ، تخار او فارياب ولايتونو له کوکنارو څخه خلاص وضعيت د ګواښ سره مخ دی که چېري په وخت سره اقدامات ترسره نشي. که چيرې حالات همداسې دوام وکړي، نو په ۲۰۱۳ کال کې به د کوکنارو څخه د خلاص ولايتونو شمير د ۱۷ ولايتونو په ۲۰۱۲ کال کې او د ۲۰ ولايتونو په ۲۰۱۰ کال کې، ۱۴ ولايتونو ته را ټيټ شي. اټکل کيږی چې د بدخشان په ولايت کې، په شمال ختيځ کې د کښت ترټولو لويه سيمه، د کوکنارو په کښت کې زياتوال راشي. ارزونه يو وار بيا ټينګار وکړ چې د ناامنۍ، دکرنيزو مرستو نشتوالي او د کوکنارو د کښت تر منځ قوي اړيکه شتون لري. هغه کلي چې کمزوری امنيت لري او په ۲۰۱۲ کې يې کرنيزې مرستې ندي ترلاسه کړې، د هغو ټولنو په پرتله چې ښه امنيت لري او دوي ملاتړ ترلاسه کړی او يا د پوهاوي لوړولو کمپاينونو هلته رسيدلې، په ۲۰۱۳ کې د کوکنارو کښت د پام وړ زياتوالې احتمال پکې شتون لري.

۴۵. په خپل لس کلن ليرليد پلان کې، د کورنيو چارو وزير د مخدره توکو پرووړاندې د يو لومړيتوب په توګه تشخيص کړ او دا يې روښانه کړه چې اړتيا ده تر څو د وزارت په دننه کې د مخدره توکو ظرفيت بايد خپلواک وي. په ولايتونو کې د مخدره توکو د پوليس ځواک د قوماندې، کنټرول او ترتيبات په اړه پاتې پوښتنې لا تر اوسه ندې معين شوي. د می تر ۲۷ نېټې پورې، د مخدره توکو د محو کولو فعاليتونه چې د واليانو په مشری تر سره کيږي د هلمند، کندهار، نيمروز، ننګرهار، لغمان، اروزګان، هرات، کونړ دايکندي، زابل، کاپيسا، بلخ، بادغيس او فراه په ولايتونو کې پای ته رسيدلې او د کنړ، بدخشان، فارياب او غور په ولايتونو کې دوام لري. تر دې مهاله ۵۲۸۲ هکتاره ځمکه له کوکنارو څخه پاکه شوې ده. پدې هڅو کې ۱۳۱ تنه ژوند له لاسه

ورکړي دي، چې په دوي کې ۲۷ تنه پولیس افسران، د ځایي پولیس څلور تنه افسران، ۹ تنه د ملي پوځ پرسونل، یو موټر چلوونکی او ۹۰ تنه نور شاملې دي. ۸۷ تنه نور ټپیان شوي هم دي. د ۲۰۱۲ کال په ورته موده کې د والیانو په نوښت ټولټال ۱۰۴۱۳ هکتاره ځمکه د کوکنارو څخه پاکه شوي وه، ۱۰۰ تنو ژوند لا لاسه ورکړي وو او ۱۲۲ نور ټپیان شوي وو.

۴۶. د اپریل په ۲۳ او ۲۴ نېټه، د ملګرو ملتونو لخوا د دوشنبه په ښار کې په مرکزي آسیا کې د ناقانونه مخدره توکو ته د رسیدګې او د افغانستان د لیږد په چاپیریال کې د سیمه ایيزي ننګوني په اړوند، یو سیمینار جوړ شوي و. ګډون کوونکو د مرکزي آسیا د پنځو هیوادونو، افغانستان، د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان، او همدارنګه سیمه ایز او غیر سیمه ایز سازمانونه شامل وو. په سیمینار کې برخه والو په سیمه کې امنیتي تحرکات، د ناقانونه مخدره توکو په تولید او قاچاق کې رجحانات، په دولت باندې د مخدره توکو او منظم و سازمان شوي جرمونو اغېزې او د نړیوالو او سیمه ایزو سازمانونو ونډه تحلیل او وارزول. د اپریل په ۹ او ۱۰ نېټه، په سیمه کې د مالي استخباراتي واحدونو شېړمه ناسته د جرمي شتمنیو د سهیلي مرکز تر نوښت لاندی او د مرکزي آسیا د سیمه ایزو او معلوماتو د همغږۍ د مرکز په همکارۍ او د افغانستان او ګاونډي هیوادونو لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ایز پروګرام تر مشرۍ لاندې په الماتي کې جوړه شوې وه. اوو هیوادونو او تمویلوونکو د پیسو مینځلو، د تروریزم تمویل او د مشکوکو مالي معاملاتو په اړه او د معلوماتو د تبادلې په اړوند بحث وکړ. د ملګرو ملتونو څخه غوښتل شوي وو چې د پیسو مینځلو په اړه یوه لار نخښه طرحه کړي تر څو د پولو پر خواوو د پیسو مینځلو پر ضد کار نور هم اغېزمن کړي او د افغانستان او ګاونډي هیوادونو لپاره د ملګرو ملتونو د سیمه ایز پروګرام کې د برخه اخیستونکو حکومتونو سره د مشورې وروسته، د ۲۰۱۳ کال تر پایه نهایي کړي. د می په ۷ او ۸ نېټه، د پریکرسر کیمیاوي موادو په اړه د سیمه ایز استخباراتو کاري ډله په دوشنبې کې غونډه وکړه ترڅو د کنټرول لاندي موادو د وروستۍ کشف او ضبط په اړه معلومات شریک کړي.

## اووم: د ماموریت ملاتړ

۴۷. ماموریت د ۲۰۱۴ – ۲۰۱۵ کال لپاره د بودیجې د وړاندیز په جوړولو لګیا دی. هیله ده چې د ۲۰۱۳ کال د یوناما په تمویلاتو کې د ۱۸.۷ سلنې د کمښت سربیره، په ۲۰۱۴ کې، چې د انتقال د بهیر حساس پړاو دی، دا امکان ولري چې په لویه کچه اخلال او اداري بدلون څخه ډډه وشي. په لګښتونو کې کمښت راویستل او د وړتیاوو پر زیاتولو به کار وشي او د ماموریت عملیاتو کې د ماموړینو پر شمېر د بیاکتنې له لارې پر بیاارزونې او لومړیتوب ورکولو کار روان دی. لږ خالي بستونه، د ماموړینو د لګښتونو زیاتیدل، او پر عملیاتي لګښتونو فشار په دې مانا دی چې په بودیجه کې د صفر کچې وده به هم په حقیقي ارزښت کې د کمښت لامل وګرځي. د یوناما سیمه ایز جت الوتکې د غیرفعالولو سره، چې باقاعده د کابل او دوبۍ تر منځ الوتنې لري، په کال کې به ۶،۲ میلیون دالره وسپمول شي. په سختو شرائطو کې د ملاتړ لپاره یوناما د نورو سیمه ایيزوه هوایي شرکتونو سره د تیارسۍ بندوبست لري.

۴۸. په داسې حال کې چې ۹ ولایتي دفترونه تړل شوي دي، د ماموریت د پلې کولو لپاره یوناما د داسې انعطاف او ګټور موډلونو پرجوړولو کار پیل کړی دی چې د ملګرو ملتونو د ملکي تیم سره په همغږۍ سره د اړتیاوو او فرصتونو د رامنځ ته کیدو سره، فعالیتونه پراخ او یا محدود کړای شي. د هیواد په کچه د شبکو او اړیکو په جوړولو او ساتلو سره، یوناما په هغو سیمو کې چې دایمي ساحوي حضور نلري، پر ګډو ماموریتونو ترسره کولو تمرکز کړی دی. د یوناما او د ملګرو ملتونو ملکي تیم په ګډه پکتیکا، غزني، هلمند، زابل، نیمروز، غور او بادغیس ولایتونو ته سفر کړی دی چې شپه هم هلته پاتې شوي دي.

۴۹.        د بیا تنظیمولو او د ملګرو ملتونو د کورنۍ د پراخ ملاتړ په موخه، یوناما، د اپریل د میاشتې پر ۲۹ نېټه، ۱۵ زغره وال موټر بماکو ته ولېږل تر څو په مالي کې د ملګرو ملتونو د څو بُعدی د ټیکاو واحد ماموریت له خواکار ځینې واخیستل شي. د مې د میاشتې پر ۲۱ نېټه، ۱۵ نور موټران د ملګروملتونو د بې وسلې کولو ځارونکی ځواک ته ولېږدول شول.

۵۰.        د کویت د ګډ ملاتړ دفتر فعالیت، د پلان سره په سمون، د یوناما او په عراق کې د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت لپاره د ملاتړ په یوځای کولو او د اوسنیو عملیاتي چارو په غوندېولو کې دوام درلود. په مهمو د وړاندې کولو وړ  فعالیتونو کې، د بشري سرچینو او مالي معاملاتو د بهیرونو لپاره د خدماتو د ترون د مسودې او د اړوندو کلیدي فعالیتونو شاخصونو جوړول، د ملګرو  ملتونو د نړیوالو نوښتونو د پلې کولو او سریېره، د اموجا او انسپیرا په نامه د نړیوال عامه سکتور د محاسبې معیارونو لپاره ملاتړ شامل دي .

**اتم: مشاهدي**

۵۱.        د افغانستان په اړه د ټوکیو کنفرانس یوه کال وروسته، دا مهمه ده چې د باثباته او دوامداره سیاسي او اقتصادي لېږد په لور پر پرمختګ رڼا واچول شي. زه داسي تمه لرم چې په یوه ناسته کې چې د جولای په میاشت کې په کابل کې تر سره  کېږي، لوړ پوړي چارواکې به، د دولت او نړیوالې ټولنې پر دوه اړخیزو ژمنو د وضعیت په ښکاره ډول ارزونه وکړي. د راتلونکې لسیزې لپاره د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې د ملاتړ ژمنې غیرمعمولي دي. دغه ملاتړ باید په ښکاره ډول او په دې توګه چې ملي مالکیت پیاوړي کړي، ترسره شي. د دولت دا مسوولیت دی چې د افغان ولس د اړتیاوو او هیلو په پوره کولو کې پرمختګ وکړي. د پیاوړی ګډون او دوامدار نړیوال ملاتړ لپاره ځواب ورکونه او څرګندې پایلې ډېر د اهمیت وړ دي.

۵۲.        د سیاسي لېږد لپاره په مشرتابه کې مشروع ځای ناستی ډېر مهم بلل کیږي. په دې اړه یوې هوکړې ته رسیدل د ټاکنیز بهیر اعتبار او د ټاکنو د پایلې منل زیاتوي. د ټاکنیزو قوانیونو په منظورۍ کې څنډ افغان برخوالو کې چې آیا ټاکنې به پر وخت او په دې ډول به تر سره شي چې ټولو نوماندانو ته د سیالۍ مساعده زمینه برابره شي، بې باوري زیاته کړې ده. د قوانینو د وضع کیدو ماده دا ده چې افغانان دي په خپله د پریکړې حق ولري خو د ټاکنیزو ادارو د غړیو د ټاکلو لپاره د یوه مشاورتي میکانیزم لپاره هوکړه ډېره لازمه ده چې په دې شان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره داسي یو مشر وټاکل شي چې د ټولو لپاره د منلو وړ وي او د شکایاتو لپاره یوه بې طرفه میکانزم جوړه شي. له ټولو خواوو څخه د ښه نیت او جوړجاړې ښوولو ته اړتیا ده. د قانون جوړولو لپاره اجماع به د سیاسي بهیر په مخ ته وړلو او تخنیکي چمتووالی کې مرسته وکړي.

۵۳.        دا خبره زما لپاره ډېره تشویقونکې ده چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټاکنو د ورځ یوه کال وړاندې، پر مهالویشونو، عملیاتي چوکاټونو او د وړاندیز شویو رایه اچونو پر ساحو هوکړه شوی چې دا کار په افغانستان کې یوه بې سارې لاسته راوړنه ده. زه له افغان امنیتي ادارو څخه غواړم چې د ټاکنو د بهیر د خوندي ساتلو او د پراخې او هراړخیزې ونډه اخیستنې لپاره همدا شان اقدامات وکړي. د مناسب تمویل د تګلارو لپاره هم باید ډېر ژر هوکړه وشي. یوناما د نړیوالې ټولنې د غړو تر منځ او د افغانستان او تمویلوونکو تر منځ د خبرو اترو لپاره لاره هواره کړې تر څو دوی داسې هوکړې ته ورسیږي چې نه یوازې د خپلواکې او پایښت بلکه د تمویلوونکو د خوابورکونې اړتیاوې هم په رسمیت وپېژني. یوناما، د خپل ماموریت په سمون د سیاسي برخوالو تر منځ د هراړخیزو خبرو اترو د ترویج لپاره هم په عمل لګیا ده. د بربښنایي پېژندپاڼو پروژه چې د خورا زیات ملي اهمیت څخه برخمنه ده، یوه منځمهاله او همدا راز اوږدمهاله هڅه ده چې د ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کلونو د ټاکنو په جریان کې به ډېر اغیز ونلري.

په پاته وخت کې د اړتیا تمویل تر لاسه کول د ډیرې زیاتې ګټې ترلاسه کولو ضامن وي خو د سرعت پر ځای باید پر پایښت ټینګار وشي.

۵۴. ټولیزواله او غښتلې عامه بحث د برابرې ټاکنیزې سیالۍ لپاره په مساوي توګه مهم دي. تر اوسه زه د خوځندې رسنۍ او د مدني ټولنې د ونډې له پلوه ډیره خوشاله یم. اشخاص او سیاسي ګوندونه باید ژر تر ژره واضح کړنلارې او اجنداوې وړاندې کړي تر څو رایه ورکوونکي وکولی شي د خپل هیواد د راتلونکي په اړه څرګنده انتخاب ولري.

۵۵. د ثبات او پرمختګ لپاره د سیاسي هڅې بله مهمه کړښه د سولې بهیر ده. د راتلونکې لپاره د خورا زیات متحد او همغږ افغان لید او د ملي خبرواترو د ترویج لپاره یوناما خپله رسیدنه او د ظرفیت لوړولو هڅې زیاتې کړې دي. د دې موخې لپاره، د ساحوي دفترونو د یوې ځانګړې شبکې له لارې سیمه ایزه همکاري او په ملي کچه رسیدنه ډیره مهمه ده. په دوحه کې د طالبانو د استازو د دفتر په جوړولو کې ځنډ، تر څو دوی وکولی شي د سولې عالي شورا سره خبرې اترې ترسره کړي، د سولې د هڅو په اړه ابهام راپیدا کوي. زه د افغانانو په مشرۍ پر یوه همغږ بهیر پر اړتیا ټینګار کوم. په دې لړ کې یوناما چمتو ده تر څو د ملګرو ملتونو تر چترۍ لاندې د غیررسمي خبرو اترو لپاره هم مرسته برابره کړي.

۵۶. په دې وروستیو کې د پاکستان او افغانستان تر منځ د ترینګلتیا ډیروالی د اندېښنې وړ ده. په داسې حال کې چې زه په پاکستان کې د ټاکنو وروسته د دواړو هیوادونو د مشرانو تر منځ د مثبتو ګامونو څخه تشویق شوی یم، زه له دواړو دولتونو څخه غواړم چې د باور فضا پر جوړولو تمرکز وکړي تر څو د شخړې او راپارول شوی عامه احساساتو څخه مخنیوی وشي. د ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره سیمه ایزه همکاري ډیره مهمه ده. د الماتي اعلامیه د استانبول پروسې ته سرعت ورکړی دی. زه د آسیا زړه د سیمې هیوادونه، ملاتړکوونکي ملتونه او نړیوالې او سیمه ایزې اداري تشویقوم چې د سیاسي دیالوګ د چوکاټ د جوړولو، حقیقي نوښتونو او اعتماد جوړولو چې د سیمې عاملین په مالکیت وي، لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي او د یاد چوکاټ د بشپړ استعداد او مالي پایښت لپاره کار وکړي .

۵۷. سوداګریز اعتماد د بې ثباتي له امله کمزوري کیږي. د عوایدو دوامداره خوځیدنه او اصلاحي چوکاټونه جدي تمرکز ته اړتیا لري چې د خصوصي سکتور وده تشویق کړي. اداري فساد او نامشروع اقتصاد چې د درېیم پړله پسې کلونو لپاره د ترياکو زیاتې کرکیلې له کبله له اوږدې مودې راروان دي، د هراړخیزې ودې او په نهایت کې د تمویلوونکو علاقې ته زیان رسوي. د کابل بانک په سقوط کې ښکیلو ۲۱ کسانو ته د سپکو سزاو ورکول باید په دې مانا نه وي چې د رسوایي په دغه قضیه کې ځواب ورکونه پای ته رسیدلی. پیاوړی او دوامدار عمل، په ځانګړې توګه د شتمنیو په بیا ترلاسه کوونه، او سم مالي مقرراتو کې ډیر مهم دي. د دوامدارې نړیوالې مرستې د تضمین لپاره لازم دی چې د سم سازماني او مالي اساساتو په اړه ژمنې څرګندې شي.

۵۸. په ټوکیو کې د دولت له خوا یوه بله شوې ژمنه، په تیره یوه لسیزه په افغانستان کې د ښځو د لاسته راوړنو دوام او تقویت په اړه ده. د ښځو ځواکمن کول او په عامه ژوند کې ونډه لرل یوازې د بشري حقونو ستونزه نه بلکه د افغانستان د اقتصادي او ټولنیزې پانګې رابرسیره کول دی. په دې اړه په افغانستان کې د تاوده بحثونو راپورته کیدل د یادې موضوع په اړوند

د پرمختګ ډېر حساس وضعیت څرګندوي. د افغانستان د نړیوالو ژمنو سره په سمون، هر هغه هڅه باید وشي تر څو د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالو د ختمولو د قانون لاسته راوړنې خوندي کړای شي .

۵۹. وسله واله شخړې ملکي وګړو ته دروند ځاني زیان اړولی او په روانه ربع کې په ملکي تلفاتو کې د ۲۵ سلنې زیاتوالی، چې په ۲۰۱۲ کې کم شوي وو، زه ډېر اندېښمن کړی یم [څرنګه چې د ۲۰۱۳ د مارچ د میاشتې په (A/67/778-S/2013/133) سند کې نوټ شوی]. له ترهګرۍ څخه د لومړنی تاکتیک په توګه د کارولو له لارې، د دولت ضد عناصرو له خوا، د انتحاري بریدونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو سره د ملکي وګړو او عامه سیمو بې توپیره هدف ګرځونه دوام درلود. د طالبانو هغه اعلامیه چې قضات او څارنوالان به هم د دوی هدف وي، د ملکي وګړو او جنګیالیو تر منځ د نړیوالو حقوقي توپیرونو سرغړونه ده. په دې وروستیو کې پر بشري سازمانونو بریدونه هم د ډېرې اندېښنې وړ دي. د روانې شخړې لا زیات ظالمانه پړاو چې پر ملکي وګړو تمرکز ولري به د دښمنۍ او تاوتریخوالو دورې لا زیاتې کړي. زه پر ټولو غاړو غږ کوم چې د نړیوال بشري قانون درناوی وکړي.

۶۰. څرنګه چې د امنیتي لیږد بهیر پر مخ ځي، د شخړې خاصیت هم رابرسیره کیږي. سربیره پر دې د دولت ضد عناصر، ځایي زورواکان او جنایي شبکې د ځواک او د سرچینو د کنټرول لکه د مخدره موادو د سرچینو لاس ته راوړلو لپاره یو له بل سره سیالي کوي او د ځایي سیالیو لپاره یو له بل سره متحد کیږي. د ارقامو پر بنسټ د تاوتریخوالو ساده ارزونې کیدای شي ګمراه کوونکې وي. د امنیت اصلي آزموینه دا ده چې آیا ولس په خپل روزمره ژوند کې او د راتلونکې امکاناتو په اړه ډاډمن دي او که نه. په داسې حال کې چې له ډېر زیات وړتیاو برخمن افغان ځواکونه په ټول هیواد کې د امنیت مسوولیت په غاړه اخلي، د دوی لپاره دا ډېر مهم دی چې د ولس د خوندیتوب او د هغوی د اعتماد رامنځته کولو کې خپل ظرفیت څرګند کړي. امنیتي ستونزې او کورني او بهرني ننګونې پرخپل ځای پاتې دي. له دې کبله چې افغان امنیتي ارګانونه اوس هم د پرمختګ په حال کې دي او مهمې نیمګړتیاوې لري، په لازمه توګه ننګونې، ځنډ او خنډونه به هم شتون لري. نه یوازې د سیاسي او اقتصادي ثبات بلکه پر افغان امنیتي ځواکونو د ولس د اعتماد د رامنځ ته کولو لپاره اوږدمهال نړیوال ملاتړ ډېر مهم رول لري تر څو ټولنې د خپل امنیت لپاره متبادلې سرچینې غوره نکړي.

۶۱. د امنیتي او عدلي ارګانونو ځواب ورکونه او څار د خپلواکې مهمه برخه بلل کیږي. په دې وروستیو کې د هغو بندیانو خلاصون چې په غیرقانوني توګه په بندیخانو کې ساتل کیدل، تشویقوونکی کار دی. د بندیانو په وړاندې د شکنجې او ناوړې چلند د مخنیوي او د ځواب ورکونې په اړه باید کوټلې او دوامدارې هڅې روانې وساتل شي.

۶۲. زه پر هغو ټولو غاړو ویاړم چې د معافیت کمپاینونه خوندي او پلي کړي دي. خو بیا هم د یوه پیچلې بشري وضعیت په حالت کې د بشري مرستو اداري په لرې پراته سیمو کې مخ پر زیاتیدونکو دښمنیو سره مخ وي چې دا د بې ځایه کیدو یو لامل هم دی، او د دې شان سیمو خلکو ته د بشرپالنې مرستندویانو رسیدل لا ستونزمن کوي. زما په نظر داسې عاجلو ګامونوته اړتیا ده تر څو بې ځایه شوي خلګ خوندیتوب او بشري مرستو ته لاسرسی پیدا کړي. د هغو نیم میلیونو بې ځایه شویو خلکو، چې د شخړې له امله بېځایه شوي دي، او احتمال لري چې پر مرستو منحصر وي، او د کډوالو او بیرته راستنیدونکو لپاره یوازې پر مرستو اتکا د ستونزې دوامدار حل نه دی. افغان چارواکې او تمویل کوونکې د ناورین په وړاندې د چمتووالی او غبرګون اداري ظرفیت ته هم باید زیات توجه وکړي او د یادې اداري دندې او مسوولیتونه باید واضح کړای شي.

۶۳. په ملګرو ملتونو کې د ننه او د افغان او نړیوالو برخوالو سره خبرې اترې روانې دي چې د لیږد او د لیږد وروسته ننګونو او فرصتونو لپاره څنګه چمتووالی ونیول شي. په داسې وخت کې چې حالات نورمال کیدو په لور روان دي، ملګري ملتونه ژمن دي تر څو د خپلواکې، سیاسي چوکاټ، د خدماتو لپاره اداري ظرفیت او اقتصادي ځان بسیاینې د پیاوړې کولو په ډګر کې افغانستان سره مرسته وکړي. موسسې هم به خپلې تګلارې او د ظرفیت لوړولو مهارت د ملي او ځايي ادارو او سازمانونو پر مرسته متمرکز کړي تر څو دوی وکولای شي د خدماتو د ورکولو اغیزمن نظام جوړ کړي. زه ټینګار کوم چې د ماموریت اصلي دندې، د افغانانو په مشري د سیاسي، جوړجاړې، سیمه ایزو بهیرونو، د بشري حقونو د درناوي ترویج او د پرمختګ همغږی د ملاتړ لپاره د ښو هڅو دفاترو او سیاسي رسیدنې برابرول دي. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ وروسته، یوه مختلفه ښکیلتیا ته به اړتیا وي تر څو خپلواکې او ملي مالکیت پیاوړی کړي، زه یقین لرم چې دغه لومړیتوبونه به د لیږد په ترځ او د لیږد وروسته د اعتبار وړ وي. یوه ځانګړې سیاسي ماموریت حیاتي رول لري تر څو د نړیوالې ټولنې سره د رغندې ښکیلتیا لرلو، د ژمنو په پلې کیدو او د هغو د څرګند اغیز د تضمین لپاره د افغانستان دولت او د افغان ولس ملاتړ وکړي.

۶۴. د افغانستان د ادارو بنسټونه په ډیره پر خپل ځای ولاړ دي خو پیچلې او ژور ریښه لرروونکې امنیتي، بشري او ظرفیتي ننګونو سره لاس او ګریوان دي. د لیږد د بهیر بې ثباتي او پر بهرنیو سرچینو انحصار خپل خوځښت رامنځ ته کوي. د جریان په داسې یوه موده کې تر ټولو مهم هدف، د یوه پیاوړي، ډیر زیات پرځان بسیا او خپلواک هیواد چې اداري یې د خپل ولس د امنیت او خدمت توان ولري، باید د ټولو هڅو په سر کې ځای ولري.

۶۵. زه غواړم چې د یوناما له ټولو ملکي او بهرني کارکوونکو، په ځانګړې توګه زما ځانګړې استازی، ښاغلې یان کوبیش څخه مننه وکړم چې له ننګونو ډک حالاتو کې د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو د عملي کولو لپاره خپل ایثار او سرښندنې ته دوام ورکوي.